AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ ۲۰۲۳/۰۸/۲۹

# د جمهوریت د سقوط عوامل
## د جنګسالارانو ونډه

(څلورویشتمه برخه)



(حمید خراساني له لنډغرۍ تر طالبۍ؟!)

### جنایتکاران او د چارواکو ملاتړ (۲)

د جمهوریت په تېرو شلو کلونو کې د افغانستان جمهوري حکومتونو داسې جوړښت درلود چې د ننه په حکومت کې د حکومت مخالفانو ځای نیولی ؤ، دغو دولتي چارواکو پر ولسمشرانو، حامد کرزي، اشرف غني او د حکومت پرخلاف هر ډول ناوړه تبلیغات ترسره کول. هر یو مخالف تر خپل وس پورې د حکومت ضد کړنې کولې چې له امله یې جمهوري حکومتونه ورځ تر بلې کمزوري کېدل، مخالفان په دې نه پوهېدل چې حکومت په لوی سیند کې د یوې بېړۍ په څېر دی چې ټول په کې ناست دي، که بېړۍ ډوبیږي، طبیعي ده چې ټول به له منځه ځي.

سره له دې چې د حامد کرزي د حکومت پر مهال د جمعیت ډلې د کابل په ښار او شمال کې خپل سرۍ او بدماشۍ رواني ساتلې وې خو د اشرف غني او عبدالله د (ملي نفاق) حکومت پر مهال یې د عبدالله د ملاتړ له امله په ځانګړو ورځو کې د کابل په ښار کې ډېرې بې نظمۍ جوړې کړې چې په ځینو وختونو کې امنیتي کسان او کابل ښاریانو هم ژوند له لاسه ورکاوه. کابل ښار کې د جمعیت ډلې، هزاره ګانو او نورو له خوا په بېلابېلو پلمو، له تاوتریخوالي سره یو ځای لاریونونه ترسره کېدل، لطیف پدرام چې خلک یې (بدرام) هم بولي او نورو افغانستانیو **د پوهنتون نوم پر ځای د دانشگاه نوم غوښتنه کوله او دا خو یې تکیه کلام ؤ چې ویل به یې: (ما افغان نیستیم) دا یې هم ویل چې افغانستان یو**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

**جعلي نوم دی، د دې خاورې اصلي نوم خراسان دی موږ خراسان غواړو. ناری یې وهلې چې موږ په هېواد کې د رياستي نظام پر ځای فدرالي نظام غواړو، ځينو ويل، ملي بيرغ او ملي سرود نه منو،** تر دې چې د جمعيت ډلې يو



(حميد خراساني د ملي بيرغ د سوزولو او ښکلولو په حال کې)

لنډغر حميد خراساني چې له تخلصه يې هم ښکاري، ځان افغان نه باله، د افغان او افغانستان نومونه يې نه منل، هغه د افغانستان خاوره د خراسان په نوم بلله، د هغه په نظر، د هېواد ټول قومونه افغانان نه وو، افغانان يوازې پښتانه وو، نوموړي پښتنو ته فاشيستان ويل، ملي بيرغ او ملي سرود يې د پښتون قوم ارزښتونه بلل، هغه د طالبانو سره له دې کبله مخالفت درلود چې طالبان پښتانه وو، خراساني د جمهوريت پر مهال، ملي بيرغ په داسې حال کې وسوزاوه چې د جمعيت ډلې بيرغ يې پورته کړی ؤ او د جمعيت باند سرود (ترانه) يې هم غږوله، سپکې سپورې يې ويلې، پښتانه يې يهود او فاشيستان بلل او کنځلې يې کولې. په يوه بله ويډيو کې ښکاري چې نوموړی بدماش د کوچيانو رمې د پنجشېر په دره کې وراندي تګ ته نه پرېږدي، خراساني اشرف غني او کوچيانو ته بد رد وايي، د کوچيانو په رمو د ټوپک ډزې کوي.[1]

دغه بدماش د ولسمشر غني مرستيال امرالله صالح په امر چې هغه هم پنجشېری دی په کابل کې ونيول شو، هغه مهال چې نوموړی د امنيتي ځواکونو لخوا محاصره شوی ؤ، په ويډيو کې له کوم جنرال سره خبرې کوي وايي چې محاصره شوی دی مرسته دې وکړي. هغه په جنايي جرمونو، تښتونو، لاروهنو او ځورونو تورن ؤ.

د هغه د نيولو په غبرګون کې يې پلويانو د کابل، پنجشېر لاره د اعتراض په توګه د څه مودې لپاره وتړله. د ځو ورځو بند وروسته دغه د پنجشېر قهرمان، هماغه ملي بيرغ (چې ځو ورځې وراندې يې سوزولی ؤ) ښکُل کړ او ښننه يې وغوښته. نوموړي په دې ډول کړنو سره غوښتل ځان ياد کړي لکه چې وايي:**(که ځان يادوې نو د جوماتو په محراب کې (غ) وکړه.)** خراساني د دا ډول ناوړه کړنو له امله ځان مشهور کړ خو په دې نه شرميده چې د لړ فشار له امله يې هماغه (د ده په اصطلاح د فاشستانو بيرغ) چې سوزولی يې ؤ ښکُل کړ.

---

1: لاندې لېنکونو کې د ملي بيرغ د سوزولو او د پنجشېر په دره کې له کوچيانو سره د خراساني د ناوړه کړنو ويډيوګانې ليدلی شی:
https://www.youtube.com/watch?v=2i8Lh0hfFxI
https://www.youtube.com/watch?v=nxzZhp4AbVQ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**په وسـواس په نامردی، په وهــم وېره**

**لا په زړه بـــه وي ګيــــدړ تر ده زړور**

(خوشال بابا)

وروسته له هغي چي حميد خراساني له بنده آزاد شو، د دې لپاره چي طالبان وغولوي، نو خپله ږيره يې اوږده کړه، د قرآن کريم ځيني آيتونه او حديثونه يې ياد کړل او د ۲۰۲۱ز، کال په لومړيو کي له طالبانو سره يو ځای شو، په داسي حال کي چي ټول عمر يې له طالبانو سره په مخالفت کي تېر کړی ؤ، طالبان چي پښتانه وو، خراساني يې پر کړنو سختي نيوکي او غبرګونونه ښکاره کړي وو.

خرساني چي د پښتو ژبې سخت دښمن ؤ په لږه موده کي يې پښتو زده کړه، په رښتيا چي هغه د هر زمان او مکان سره ډېر ژر ځای عيارولی شي چي دا ډول خلکو ته زموږ په اصطلاحاتو کي **(د چرګ لکی)** وايي او په عربی کي **(ابن الوقت.)**

له بده مرغه همدغه افغان او طالب دښمنه پنجشېری چي کله طالبانو واک ترلاسه کړ نو د پنجشېر د امنيت آمر يې وټاکه خو ژر له دندې ګوښه کړای شو، نوموړی پنجشېری د ۱۴۰۲ل. ل، کال د وري په مياشت کي د امارت چارواکو لخوا د پکتيکا د احمد آباد ولسوالۍ ولسوال وټاکل شو چي لا تر اوسه همالته دی.

موږ د امارت له چارواکو غواړو چي په دا ډول نااهلو او فاسدو کسانو باندې باور ونه کړي، په ياد ولرئ! که دغه کس ته موکه په لاس ورشي تر ټولو لومړی به ستاسو پر وړاندې جګړه پيل کړي، نوموړی چي په خپلو عزيزانو نه دی ترلی، طالبان خو يې پخواني دښمنان دي.

**زين د زرو په خره پروت دی**

**په ښه آس باندی پالان**

(خوشال بابا)



(د کابل پنجشېر لاري ترل د خراساني د نيول کيدو په اعتراض کي)

نېټه:۱۴۰۲/۶/۷ل. ل

**نور بيا**

د ليکوال: آرشيف



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ